مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲/۱۲/۲۴

# د ستورو کیسي

زه چي ماشوم وم، لویه دنیا وه
بام و د ختو، پاکه هوا وه
اسمان به شین و، د اوړي شپو کي
ستوري به ډېر وو په اسمانو کي
کیسه د هر یو ستوري جلا وه
شیشکي نه وې او مړه بلا وه
یوه بوډۍ وه او یو یې کټ و
لیلا وږه وه او مجنون غټ و
د ښاپیریو یوه کلا وه
نهه برجونه، منځ کي یې ځاه وه
د ستورو لار وه روان پرې پیر و
لوی ځوان یې نوم و، بل دستګیر و
د کاهکِل بوی و، د بام هوا وه
د مور کیسو ته زموږ خندا وه
پیر به لکړه کړه پرې ور پورته
دیوان به ولاړل هریو خپل کورته
د ښاپیریو اتڼ به جوړ شو
تږی پردیس به په چینه موړ شو
زه چي ماشوم وم ، دوښمني نه وه
بېوزلي وه خو ، بخیلي نه وه
د مور کیسي وې دومره پرېمانه
راتلي د ستورو له ډک اسمانه
زه چي ماشوم وم سپوږمۍ رڼه وه
ورته د ستورو پنډه رمه وه
د بوډۍ کټ کي پیشو ویده وه
یو مساپر و، اسپه یې سره وه
مساپر تللو د کلا خوا ته
د کلا برج کي بندي لیلا ته
شاه لیلا وږې هلته دیوانو
وه بندي کړې، څو کوډګرانو
مساپر څوک و؟ یو شهزاده و
روان د میني په اراده و
چي شهزادګی کړي ورنه راخلاصه
دیوان به مات شي ، د ده له لاسه
د کلا برج نه له هغه ستوري
لیلا ولاړه لارې ته ګوري
اوږدې کوڅې یې پرې راخوری کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

مساپر پوه شو، رسی يې پرې کړې
زه چې ماشوم وم، ستورو کيسې کړې
زموږه سترګې به دوی ويدې کړې
د زېړې غوا هم يوه کيسه وه
يوه يتميه نجلۍ وږه وه
نيکی بدی وو سره دوه ورونه
د ښاپيريو به وو نکلونه
د اوږې شپې وې ، د بام کيسې وې
شين چای به دم شو، څه پتاسې وې
سهار به لمر له غره راوخوت
د کيسو خيال به له زړه راووت
ورځ به مو ځانته په خيال کړه تېره
ټوله دنيا به مو شوله هېره
يو به نيکی شوو بل به بدی شوو
يو به پر سره اس سپور شهزادګی شو
ګاونډۍ نجل به مو شهزادګۍ وه
د زېړې غوا به سپينه لکۍ وه
د مور کيسې مو ټولې په ياد وې
راته زين کړې اسپې د باد وې
ګاونډۍ نجل مو بندي پرته ده
زموږه خيال يې ځوان شهزاده ده
د ستورو منځ کې خوره وره ده
ژوند بل څه نه ده، بس افسانه ده






افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ